


## د نارد راین ویست فالن په ایالت کې استخدام ته د پناه غوښتنې په جاري پروسه کې د کسانو لاسرسی (د دې اسنادو خاوندان: د اقامت اجازه، د رارسېدو سند، د پناه غوښتونکي په توګه د ثبت سند – BüMA)

هغه کسان چې د نارد راین ویست فالن په ایالت کې هستوګنه کوي او د **اقامت جازه (Aufenthaltsgestattung)**، هېواد ته **د رارسېدو سند** او یا **د پناه غوښتونکي په توګه د ثبت سند – BüMA** لري باید د کار د یوه مشخص وړاندیز لپاره په لومړي سر کې د بهرنیانو ادارې ته د کار د اجازې درخواست وړاندې کړي. د دې اجازې ورکول له درې عواملو سره تړاو لري:

- **په آلمان کې د هغوی د هستوګنې له مودې سره**
- **د لزوم په صورت کې د هغوی د مبدا له هېواد سره**
- **د نارد راین ویست فالن په ایالت کې د ننه د هغوی د هستوګنې له ځای سره**

**د کار ممنوعیت ته پاملرنه!**

د هغو پناه غوښتونکي چې په اصطلاح «د مبدا له یوه امن دولت » څخه دي، او د پناه غوښتنې درخواست ئې د **31.08.2015** له نېټې وروسته ورکړی وي د قانون پر بنسټ د کار کامل ممانعت موجود دي. د کار د ممانعت لپاره ټاکونکي خبره د لومړي ځل لپاره ثبتېدل دي. د کار د ممنوعیت لپاره ټاکونکي خبره د لومړي ځل لپاره ثبتېدل دي، یعني د پناه غوښتونکي په توګه د ثبت د سند – BüMA نېټه. **د کار ممنوعیت د هغو کسانو په اړه چې د پناه غوښتونکي په توګه د ثبت سند – BüMA ئې د 31.08.2015 نېټې مخکې صادر شوي وي صدق نه کوي.**

**اشاره:** د کار ممانعت د هغو کسانو په اړه صدق کوي چې د پناه غوښتنې په پروسه کې دي او د پناه غوښتنې درخواست ئې د 31.08.2015 له نېټې وروسته ورکړی وي او د هغو کسانو لپاره چې د اقامت تحملي اجازه (Duldung) لري او د 31.08.2015 له نېټې وروسته د پناه غوښتنې ورکړ شوی درخواست ئې رد شوی وي. **د کار دا ممنوعیت د قانون له مخې د هغو کسانو په اړه چې د تحملي اقامت اجازه د نورو دلاېلو پر بنسټ ترلاسه کوي (د پناه غوښتنې له پروسې پرته) صدق نه کوي.**

**مشوره: د پناه غوښتونکي په توګه د ثبت د سند – BüMA په مرسته د لومړي ځل ثبتېدلو نېټه د اوږدې مودې لپاره ثابتېدلای شي.**

*دا چې اوس مهال کوم هېوادونه د **« مبدا امن دولتونو»** په ډله کې شامل دي د پناه غوښتنې د قانون (Asylgesetz) د 29 الف مادې لپاره په II ضمیمه کې درج دي. دا هېوادونه اوس مهال البانیا، بوزنین هرځې ګووینا، ګانا، کوزوو، مقدونیه، مو نتې نیګرو، سینیګال او زربیا دي.

**د کار د ممنوعیت د نشتوالي پر مهال استخدام ته لاسرسی په لاندې ډول تنظیمیږي:**

### په آلمان کې له یوې تر 3 میاشتو اقامت

د اقامت په لومړیو درې میاشتو کې د کار بازار ته د لاسرسي لپاره د انتظار موعد موجود دی. په دې موده کې د کار کولو اجازه نشته.

### تر 6 میاشتو اقامت

د انتظار موعد تر 6 میاشتو دوام لرلای شي د دې لپاره چې دا وخت د ایالت په یوه لومړي هستوګنځای کې د پناه غوښتونکي کې د اوسېدو تر مودې اعتبار لري.

### د انتظار له مودې وروسته د اقامت تر 15 میاشتې

په دې حالت کې استخدام ته د لاسرسی شرایط موجود دی. د بهرنیانو اداره د استخدام د اجازې د درخواست د بررسی لپاره **د کار د فدرالي ادارې** موافقه ترلاسه کوي. **دا اداره تل بررسی کوي**

- چې آیا پناه غوښتونکی تر عین شرایطو لاندې کار ته ګمارل کیږي لکه یو د ورته شرایطو لرونکی آلمانی کارمند او که نه.

کله چې پناه غوښتونکی د **بوخوم، درتموند، دوسبورګ، اېسن، ګیلزین کیرشین، اوبرهازین او یا ریکلینګین د کار د ادارو په یوه منطقه کې** هستوګنه ولري نو دا خبره هم بررسي کیږي

- چې آیا د معیین کار لپاره آلماني او یا د اروپا د ټولنې کارمندان او یا د اقامت د لوړو اسنادو خاوندان موجود دي او که نه (د لومړیتوب بررسي)

**استثنا:** د کار فدرالي اداره د ځینو حرفو په اړه د لومړیتوب بررسي نه کوي. دا حرفې په 2016 کال کې د نورو تر څنګ د فلزکارۍ، میشاترونیک، الکترو میخانیک، تعمیراتو، لوله کشۍ، د بوډا کسانو پالنه او د پروګرام جوړونې حرفې دي. د دې تر څنګه داسې استثنائي حالات هم موجود دي په کومو کې چې د کار د ادارې موافقه نه اخستل کیږي.**

### له 16 تر 48 میاشتو اقامت

**له 16 تر 48 میاشتو** اقامت وروسته د نارد راین ویست فالن په ټول ایالت کې یوازې دا خبره برسي کیږي چې آیا یو تن د یوه مربوطه آلماني کارمند تر شرایطو لاندې استخدامیږي او که نه.

### د اقامت له 49 میاشتې وروسته

**په آلمان کې له 49 میاشتې اقامت وروسته** نور د کار د فدرالي ادارې موافقه لازمه نده. پناه غوښتونکي اساساً د کار د ممنوعیت په نشتوالي کې هر کار پیلولای شي، **خو باید دا خبره د بهرنیانو د ادارې له خوا په مربوط سند کې درج کاندي.**

**د پاملرنې وړ ټکي:**

د استخدام د اجازې د ورکولو په هکله قطعي پرېکړه تل د بهرنیانو د ادارې په لاس کې ده.

د هوئیت په سند کې د « د بهرنیانو د ادارې له خوا د استخدام اجازه لري» جمله د انتظار د موعد له تېرېدو وروسته په اتوماتیکه توګه نه درجیږي. پناه غوښتونکی باید د دې کار لپاره په فعاله توګه د بهرنیانو ادارې ته مراجعه وکړي.

**Pashto**

**(Zugang zu Beschäftigung für Personen im laufenden Asylverfahren in NRW)**



اريکي

## مستقل يا آزاد کار

د اقامت د اجازې (Aufenthaltsgestattung)، د پناه غوښتونکي په توګه د ثبت د سند (BüMA) او د را رسېدو د سند پر بنسټ د آزاد کار **اجازه نشته**.

## زماني کار

زماني کار **په عمومي توګه له درې مياشتو وروسته** شونتيا لري.

**د بوخوم، دورتموند، دوسبورګ، ايسين، ګېلزين کيرشين، اوبر هاوزين او ريکلينګ هاوزين د کار د ادارو په منطقو کې** زماني کار ته اساساً له **15 مياشتو وروسته** اجازه ورکول کيږي. په ځينو استثنائي مواردو کې زماني کار په دې ځايونو کې هم له 3 مياشتو وروسته شونی دی.**

## „د کډوالو د هم سازۍ تدابير“ (FIM)

پناه غوښتونکي چې د پناه غوښتونکو د خدماتو د قانون (Asylbewerberleistungsgesetz) پر بنسټ خدمات ترلاسه کوی کېدای شي چې د هم سازۍ د قانون "Integrationsgesetz***„له مخې، چې د 2016 کال د اګست د مياشتې په 6 نېټه نافذ شو، د کډوالو د په اصطلاح هم سازۍ تدابيرو (FIM)ته مکلفت شي. **دا تدابير په د منظم استخدام په معنی نه دي.** دا تدابير د يوه يورو کارونو ته ورته دي خو له دې کارونو کم يعنې د 80، 0 يورو اجرت ورکول کيږي.

** د کار بازار ته د هغو کسانو د لاسرسي په هلکه چې د پناه غوښتنې په پروسه کې دي **نور مالومات** په دې ځای کې پيدا کولای شي:
**www.frnrw.de/alpha-owl/hintergrundinfos**

*** څرنګه چې د هم سازۍ د قانون پر بنسټ زيات شمېر بدلونونه د موفقې هم سازۍ لپاره معکوسې پايلې رامنځته کوي او ځينې ئې له حقوقي پلوه ستونزمن دي، د نارد راين ويست فالن د کډوالو شورا له دې نومونې سره خپل مخالفت څرګندوي او د »هم سازۍ د مخنيوونکي قانون «په نامه ئې يادوي.

FlüchtlingsRAT
NRW e.V.

# د کډوالو شورا

# استخدام ته د پناه غوښتنې د پروسې په حال کې د کسانو لپاره لاسرسی

**(د مالوماتو نېټه: نوامبر 2016)**


alpha OWL II
Flüchtlingsrat NRW e.V.
Wittener Straße 201
D- 44803 Bochum

Tel.: +49 (0) 234 - 587315 - 80
Fax: +49 (0) 234 - 587315 - 75

Telefonsprechzeiten: Mo-Do 10-16 Uhr
E-Mail: alphaOWL@frnrw.de
www.frnrw.de/alpha-owl/



Das Projekt alpha OWL II wird im Rahmen der ESF Integrationsrichtlinie Bund im Handlungsschwerpunkt „Integration von Asylbewerber/ -innen und Flüchtlingen (IvAF)“ durch das Bundesministerium für Arbeit und Soziales und den Europäischen Sozialfonds gefördert.



**Herausgeber: Flüchtlingsrat NRW e.V. im Rahmen des Projektes alpha OWL II**